
دوهم مخ
(ناول)
داکتر عتیق الله ژمن
Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library

# د کتاب په هکله

دوهم مخ یوه احساساتي او اصلاحي کيسه ده چې د باور، فريب، پټې خبرې او ناسمې مينې تر منځ د انسان د انتخابونو پايلې بيانوي. دا ناول لوستونکي ته دا پيغام ورکوي چې د هر انسان ښکاره خبره د هغه د اصلي شخصيت څرګندونه نه کوي او هره پرېکړه بايد له فکر او باور سره وشي.

# متن

ماښام ناوخته و. زه په روغتون کې په نوکري وم.

د چای پياله مې مخې ته پرته وه، خو زړه مې نه غوښتل چې ويې څښم. ټوله ورځ مې ډېره ستړې

ketabton.com - The Digital Library

تېره کړې وه. د ناروغانو چغې، د خپلو خپلوانو وارخطايي، د نرسانو تګ راتګ او د ورځې سټریا مې لا هم په ذهن کې انګازې کولې.

موبايل مې په لاس کې و او په فېسبوک کې بوخت وم. غوښتل مې لږ خپل فکرونه له روغتون څخه واړوم.

ناڅاپه د روغتون له انګړ څخه لوړې چغې او د خلکو د وارخطايۍ غږونه پورته شول.

زړه مې ناڅاپه ولړزېد.

خدای خير، څه پېښه شوې ده؟

ژر له خپلې کوټې پورته شوم او بهر راووتلم.

ومې ليدل چې څو نرسانې يوه ځوانه نجلۍ په بيړه

ketabton.com - The Digital Library

د عاجل ځانګې پر لور ورځي. د نجلۍ خپلوان هم په ژړا او وارخطايۍ پسې روان وو.

يوه نرسه چې زهرا نومېده، له لرې يې راته غږ وکړ:

ډاکټر صاحب، ژر راشئ، د ناروغ حالت ډېر خراب دی.

زه هم ورپسې عاجل خونې ته لاړم.

نرسانو ناروغه پر کټ څملوله او د هغې د حالت د باثباته کولو لپاره مو سمدستي کار پيل کړ.

ناروغه يوه ځوانه نجلۍ وه.

مخ يې ډېر ژيړ اوښتی و. ويښتان يې ګډوډ وو او د مخ پر ځينو برخو يې د دوړو او خاورو نښې ښکارېدې. ګلابي جامې يې اغوستې وې او د مخ خام سينګار يې هم لا پاتې و، خو د هغې د اوسني

ketabton.com - The Digital Library

حالت له امله يې رنګ او ښکلا دواړه ګډوډ شوي وو.

ما له زهرا څخه وپوښتل:

په دې نجلۍ څه شوي دي؟

زهرا لږه شېبه غلې شوه، بیا یې په ټیټ او ژړغوني غږ وویل:

ډاکټر صاحب، داسې ښکاري چې زهرجن مواد یې خوړلي دي. خپلوان یې وايي: نه پوهیږي چي ولي يي دا کار کړی دی؟

د زهرا سترګې هم له اوښکو ډکې شوې.

زه څو شېبې د هغې پر مخ ولاړ وم.

ketabton.com - The Digital Library

زړه مې پرې بد شو.

هغه ډېره ځوانه وه. داسې معلومېده چې د ژوند ډېرې ورځې يې لا مخې ته پرتې وې. خو اوس د ژوند او مرګ تر منځ په يوه نازکه کرښه کې پرته وه.

ما نورې خبرې ونه کړې. په داسې وخت کې خبرې نه، بلکې کار مهم وي.

موږ لومړی د ناروغ حياتي علايم وکتل. د وينې فشار، نبض، د ساه اخيستلو حالت او د هوښيارۍ کچه مو وارزوله. وروسته مو اړينې معاينې پيل کړې، څو معلومه شي چې څه شی يې خوړلي او د بدن پر کومو برخو يې اغېز کړی دی. د هغې په بدن باندې ځينې د غاښونو ټپونه وه او ځيني د وهلو اثرات ...

د هغې حالت د اندېښنې وړ و.

ketabton.com - The Digital Library

ما نرسانو ته اړينې لارښوونې وکړې او د درملنې بهير مو پيل کړ. په همدې وخت کې د ناروغ له کورنۍ څخه يو سړی چې ډېر باوقاره ښکارېده، راته راغی.

سترګې يې له اوښکو ډکې وې.

ډاکټر صاحب، زموږ ناروغه څنګه ده؟ څه مو ورسره وکړل؟

ما ورته وويل:

تاسو لږ ارام وکړئ. موږ پرېږدئ چې درملنه يې وکړو. هر څومره چې موږ ته د کار زمينه برابره شي، هماغومره به ښه وي.

سړي زما لاس ونيو.

ketabton.com - The Digital Library

ډاکټر صاحب، هغه زما يوازينۍ خور ده. د خدای لپاره يې وژغورئ.

د هغه غږ مات شو.

سترګې يې ښکته کړې، بيا يې ژر مخ واړاوه چې اوښکې يې څوک ونهويني.

ما د هغه حالت وليد.

د هغه سړي په څېره کې داسې درد و چې خبرې يې هم نه شوای بيانولی.

ما يوازې وويل:

تر خپله وسه به هر څه وکړو.

بيا مې د ناروغې پر لوري پام واړاوه.

ketabton.com - The Digital Library

انجلۍ لا هم بې حاله پرته وه. د هغې حالت ښه نه و. نرسانو د ډاکټرۍ د لارښوونو سره سم درملنه روانه ساتلې وه. خو معلومه شول چې په دې انجلۍ باندې تیري شوي دي.

دې حالت نور هم په تشویش کې پاتي کړم ، غالب ګمان مې همدا شو چي کیداي شي په دې همدې وجه یې په بدن زخمونه وي او د ځان وژنې هڅه یې کړي وي .

ځکه انسان په داسي حالت کې خپل عقل او پوهه له لاسه ورکوي ، د ځان سره مې وویل : خدایه دې انجلۍ ته نوي ژوند ورکړي او موږ ټول د داسي پېښې څخه وساتي .

څو شېبې وروسته د هغې بدن ناڅاپه سخت ولړزېد.

موږ ټول ژر د هغې کټ ته ورنږدې شوو.

ketabton.com - The Digital Library

ما نرسانو ته وویل چې د هغې د خوندیتوب او حیاتي علایمو څارنه لا جدي کړي. اړین درمل مو ورکړل او د هغې حالت مو له نږدې څاره.

ورو ورو یې حالت لږ ارام شو.

زه څو شیبې د هغې څنګ ته ودرېدم، بیا مې له نرسانو څخه وغوښتل چې دوامداره څارنه یې وکړي.

له خونې راووتم.

د خونې له دروازې سره سم د ملیکې ورونه او نور خپلوان راته مخې ته شول.

ډاکټر صاحب، څنګه شوه؟ ژوندۍ ده؟

ما ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library

تر اوسه مو هڅه روانه ده. حالت يې جدي دی، خو تاسو بايد ارام اوسئ او موږ ته د کار زمينه برابره کړئ.

د مليکې مشر ورور راته وکتل.

ډاکټر صاحب، که زموږ په کور کې داسې زهرجن شيان موجود وي، موږ به وروسته ټول ليرې کړو. خو دا راته ووایاست، ولې يې داسې کار وکړ؟

ما ورته وکتل.

تاسو ته هيڅ داسې خبره معلومه نه ده چې د دې حالت سبب شوې وي؟

هغه سمدستي سر وخوځاوه.

ketabton.com - The Digital Library

نه، ډاکټر صاحب. موږ ورسره بد چلند نه دی کړی. هغه زموږ د کور یوازینۍ خور وه. موږ ټول پرې ډېر ګران وو.

د هغه غږ ورو ورو ماتېده.

بیا یې وویل:

خو نه پوهېږم چې ولې یې دا کار وکړ.

ما نورې خبرې ونه کړې.

ځکه نه پوهیدم چې څنګه هرڅه ورته ووایم ، دا عادي خبره نه وه ، دا یو چا عزت و او د یو چا ناموس و ، خو زه پوهیدم چې څنګه دا انجلۍ د داسي بد برخلیک سره مخ شوي وه.

بېرته خپلې دندې ته لاړم.

ketabton.com - The Digital Library

څه موده وروسته مې ناڅاپه پام شو چې د ملیکې موبایل زما په جیب کې پاتې دی.

ما موبایل راویست.

ښه او نوی موبایل و. ما فکر وکړ چې باید ژر یې د هغې کورنۍ ته وسپارم، ځکه دا د هغې شخصي شی و.

خو کله چې مې سکرین ته وکتل، موبایل خلاص شو.

زه لږ حیران شوم.

پاسورډ پرې نه و.

ما غوښتل چې موبایل بېرته کېږدم، خو ناڅاپه مې د سکرین پر عکس سترګې ولګېدې.

هلته د همدې نجلۍ یو عکس و.

ما خو شېبې ورته وکتل.

ketabton.com - The Digital Library

دا هماغه نجلۍ وه چې لږ مخکې مې په عاجل خونه کې لیدلې وه، خو په عکس کې یې بڼه دومره بدله وه چې سړی به یې په لیدلو باور نه کاوه.

مخ یې روښانه و، سترګې یې ژوندۍ وې، وېښتان یې منظم وو او پر څېره یې د ځوانۍ هغه خوږوالی و چې د ناروغۍ په حالت کې یې هېڅ نښه نه وه پاتې.

ما له ځان سره وویل:

دا هماغه انجلۍ ده؟

څو شېبې مې موبایل په لاس کې ونیو.

بیا مې ځان ته وویل:

دا باید د هغې ورور ته وسپارم. د بل انسان شخصي شی دی.

خو له بلې خوا مې زړه غوښتل پوه شم چې ولې دا نجلۍ دې حالت ته ورسېده.

ketabton.com - The Digital Library

ما د موبایل ګالري خلاصه کړه.

هلته ډېر عکسونه نه وو.

یوازې یوه ویډیو وه.

زه نور هم حیران شوم.

په موبایل کې ولې یوازې یوه ویډیو وه؟

څه فکر مې وکړ او بیا مې ویډیو خلاصه کړه.

ویډیو چالانه شوه.

ملیکه د کمرې مخې ته ناسته وه.

دا ځل هغه نه موسکۍ وه او نه یې د عکس په څېر
د ژوند کومه نښه په څېره کې ښکاره وه.

سترګې یې له اوښکو ډکې وې.

وېښتان یې ګډوډ وو او پر مخ یې د ټپونو نښې
ښکاره کېدې.

ketabton.com - The Digital Library

څو شېبې يې کمرې ته وکتل، خو خبرې يې نه شوای کولای.

بيا يې په ژړغوني غږ وويل:

زما نوم مليکه دی.

همدا يوه جمله يې وويل او بيا يې ژړا پيل کړه.

ما موبايل په لاس کې ټينګ ونيو.

زه نه پوهېدم چې څه به واورم.

مليکې د اوښکو په پاکولو سره وويل: ورور جانه

زه نه پوهېږم چې دا ويډيو به تاسو ته ورسېږي که نه. خو که ورسېده، نو مهرباني وکړئ زما خبرې تر پايه واورئ. زه غواړم خپله تېروتنه تاسو ته ووايم. زه غواړم تاسو پوه شئ چې ولې زه دې ځای ته ورسېدم.

څو شېبې غلې شوه.

ketabton.com - The Digital Library

بیا یې وویل:

ورور جانه، زه پوهېږم چې زه ستاسو د کور ډېره نازولې وم. هر څه چې مې غوښتل، تر ډېره مو راته برابر کړي وو. ما تل فکر کاوه چې زموږ کور به زما لپاره تر ټولو خوندي ځای وي.

د هغې غږ بیا مات شو.

هغې څو ځله ژوره ساه واخیسته.

خو ما یوه خبره له تاسو پټه ساتله.

ما له یوه هلک سره په فېسبوک اړیکه پیدا کړې وه.

په پیل کې هر څه عادي وو.

سلام، ستړي مه شئ، د حال پوښتنه، د درس او ورځني ژوند خبرې.

هغه هېڅکله په لومړیو ورځو کې داسې خبره نه کوله چې زه پرې شک وکړم.

ketabton.com - The Digital Library

ورو ورو مو خبرې زياتې شوې.

بيا هغه زما د خبرو انتظار کاوه او ما د هغه د پيغام.

يوه ورځ به يې راته ويل:

نن ولې نه وې؟ ستا پيغام ته منتظره وم.

بله ورځ به يې ويل:

ستا خبرې زما ورځ ښه کوي.

ما هم فکر وکړ چې شايد هغه رښتيا زما په اړه فکر کوي.

بيا يې د مينې خبرې پيل کړې.

مليکې سترګې پټې کړې.

د هغې اوښکې پر مخ روانې وې.

ketabton.com - The Digital Library

هغه به راته ویل چې زه ورته ګرانه یم، چې له ما سره ربښتینې مینه لري او که هر څه سم شي، غواړي له ما سره واده وکړي.

ما هم باور وکړ.

ما فکر کاوه چې د خپل ژوند ملګری مې پیدا کړو.

زه نه پوهېدم چې ځینې خلک لومړی ستا باور ګټي او وروسته هماغه باور ستا پر وړاندې کاروي.

د ملیکې غږ ورو شو.

هغه هلک یوه ورځ راته وویل چې باید سره ووینو.

ما لومړی انکار وکړ.

ما ورته وویل چې که کورنۍ مې خبره شي، څه به کیږي؟

ketabton.com - The Digital Library

هغه راته وویل:

که مینه ربښتینې وي، نو ولې باید له هر څه ووېرېږو؟

ده داسې خبرې کولې چې زه به فکر کوم، که زه یې ونه منم، نو شاید زما مینه ورته ربښتینې نه ښکاري.

ورو ورو یې زما شکونه ختم کړل.

بالاخره ما پرېکړه وکړه چې ورسره ووینم.

ملیکې په ژړا وویل:

نن ورځ زما د ژوند تر ټولو لویه تېروتنه وشوه.

ketabton.com - The Digital Library

ما مور ته یوه بهانه وکړه.

مور مې باور وکړ.

زه د کور په یوه خوندي چاپېریال کې لویه شوې وم. تل مې فکر کاوه چې که هره ستونزه راته پیدا شي، کورنۍ مې شته.

خو ما نن ورځ د خپلې کورنۍ له باور څخه په پټه یو ګام واخیست.

زه د هغه ځای پر لور لاړم چې هغه راته ښودلی و.

هلک له ما مخکې هلته رسېدلی و.

کله چې یې ولیدم، څو شېبې مې هېڅ ونه ویل.

هغه هماغسې و لکه په عکسونو کې.

په نرم غږ یې راته وویل:

څومره ښکلې یې.

زه یوازې موسکۍ شوم.

ketabton.com - The Digital Library

هغه بیا وویل چې باید له دې ځایه بل ځای ته لاړ شو، ځکه دا ځای راته خوندي نه ښکاري.

ما پرې باور وکړ.

ورسره روانه شوم.

په لاره کې مې زړه ناارامه کېده.

ما ځو ځله فکر وکړ چې بېرته کور ته لاړه شم.

بالاخره مې ورته وویل:

زه غواړم بېرته کور ته لاړه شم.

هغه راته وویل:

تر اوسه خو مو سمې خبرې هم نه دي کړې.

ketabton.com - The Digital Library

زه بیا هم زړه نا زړه ورسره روانه وم.

وروسته یوې ودانۍ ته ورسېدو.

هلک له چا سره اړیکه ونیوله.

ما وپوښتل:

له چا سره خبرې کوې؟

هغه وویل:

له ملګرو سره.

زه لا وارخطا شوم.

ما وپوښتل:

ستا ملګري ولې خبر دي چې زه دلته یم؟

هغه وخندل او ویې ویل:

پر هغوی باور لرم. هېڅ خبره نه ده.

ketabton.com - The Digital Library

ملیکې سر ښکته کړ.

ما په ویډیو کې د هغې د لاسونو رپېدل ولیدل.

هغې وویل:

وروره جانه، له هماغې شپې مې زړه راته ویل چې ببرته لاړه شه.

خو زه نه پوهېدم چې څنګه ببرته لاړه شم.

ما فکر کاوه چې که ببرته کور ته لاړه شم، هر څه به راته سخت شي.

همدا زما بله تېروتنه وه.

ما د خپل کور له خلکو څخه مرسته ونه غوښتله.

زه یوازې پاتې شوم.

ketabton.com - The Digital Library

او کله چې انسان په ستونزه کې یوازې پاتې شي، ځینې وخت د داسې خلکو خبرو ته هم باور کوي چې باید پرې باور ونه کړي.

له دې وروسته په ویډیو کې ملیکې د هغه ځای او د هغې ورځې د پېښو پاتې برخه په ژړغوني غږ بیان کړه.

هغې وویل :

دکور حویلي ته داخل سو ،هغه بل کس چي دروازه یي خلاصه کړي وه هغه وویل چي دې زینو کي پورته سي او لوړه خونه کي کښیني.

یوې خواته زیني پورته سوي وي ،

موږ هم په زینو کي روان سو ، بیامي هغه ته وویل :

څه پیښه ونسي ، زه ویریږم .

ketabton.com - The Digital Library

هلک وویل. ،مه ویریږه لیوني زه خو درسره یم.

ما هم باور وکړي او د هلک لاس مي ټینګ ونیوئ
، په زینو کي پورته سو هلته یوه جلا کوټه وه هلته
ننوتو ،
کوټه کي څوک نه وه ،

هلک وویل هله نو ژر دي مخ راته وښایه غواړم د
نږدي څخه دي ووینم ،

ما هم وخندل او په مینه مي د خپل مخ څخه نقاب
لیري کړ او د هغه په خوا مي په مینه وکتل ،

هغه هم راته کتل ویل واوا څومره ښکلي یې.

ketabton.com - The Digital Library

ما ويل مننه ،

هغه وويل ، ټول حجاب دي ليري که دلته څوک نه راځي .

ما شاخوا وکتل بيا مي ټول حجاب ليري کړ او خپل ګلابي جامو کي ورسره کيناستم ،

هغه وويل ولا بيخي ښايسته يي مليکي ما خو په عکسونو کي يواځي ليدلي وی مګر اوس تر هغه زياته ښکلي يي .

ما يواځي خندل ، ځکه هغه زما ستاينه کول ،

ketabton.com - The Digital Library

بیا هغه رانږدې سو ، زما لاسونه يې ونيول په ستړګو کې يې ، ستړګي راکړئ ، ویل ملیکي !
ما ويل هاا

ويل ته زما سره واده کوئ؟

ما بي له ځنډه ورته وکتل او په شوخي مي وويل.
،ولي نه ددي لپاره خو دادی د کوره را تبنتيدلي يم
دا زما مينه نده ؟

هغه وخندل ويل ، هو بلکل منم دی.

ددی خبري په ويلو يي مخ زما مخ ته رانږدې کړ ، دومره رانږدې سو چي د هغه د پزې ساه ما احساس کړه ،
ورو مي وويل ته څه کوي ؟

ketabton.com - The Digital Library

هغه وویل غواړم یو ځل مي د خپلي راتلونکي میرمني څخه مچه واخلم ، یعني ښکل یې کړم !

ددی خبري په ویلو ما کي شرم پیدا سو ځکه زه په یوه غیرتمنه او با عزته کورني کي پالل شوي وم .

ما وویل نه داسي څه مه کوه ،
زه یوائې د خبرو لپاره راغلي یم او دا مي تاته ښودل چي زه ستا سره په مینه کي ریښتني یم او هرڅه ته اماده یم .

هغه وویل نه داسي خو نه کیږي نوري یي زیاتي خبري وکړي تر څو زه اجازه ورکړم او دی خپل هدف ته ورسیږي .

ketabton.com - The Digital Library

ډیر زړه نا زړه مي وویل سمه ده خو دا به اول او اخیر ځل وي .

انجلي په ویډیو کې په تیزه ژړا وویل. لالاجانه ماته بخښنه وکړي ما هغه کس ته دا اجازه ورکړل چي ما په شهواني انداز ښکل کړي ، خو په ما بدفکر مه کوئ ځکه ما یواځې هغه ته د ښکلیو اجازه ورکړل نور د هیڅ نه خو هغه ټولو هغه څه وکړل چي انسانیت په شرمیږي ، بیایي خپلي اوښکي وچولی او څه دمه یي په خبرو کي وکړل لکه چي هغه صحنې ته ګوري .

بیا سلګو ونیول

ویل لالا جانه

ما نه غوښتل داسي وکړم خو زه تیر ایستل سوم ، ستاسو او خپل عزت مي خراب کړي ،

ketabton.com - The Digital Library

کله چې هغه زه ښکلولم نو په دی وخت کې
ما د کوم چا د قدمونو اواز واوریدي

هغه مي له خپلي غيږي تيله کړ ومي ويل
کوم څوک راځي .

هغه هيڅ زما خبره نه واوريده زه يي تر لاس
ونيولم او ځان ته يي کش کړم
ويل هيڅوک نه راځي او بيا ځلي يي هڅه کول
چې ما ښکل کړي .

خو ما د ځان د خلاصون هڅه پيل کړه ومي ويل
کوم څوک راځي ته ولي نه پوهيږي ؟

ketabton.com - The Digital Library

خو هغه لکه د مست ساندا زما خبره يي هيڅ نه اوريدل او يواځي يي غوښتل خپل کار ته دوام ورکړي .

په دي وخت کي دري کسان چي ټول ځوانان وه کوټي ته راغلل ،
ما هغه ټيله کړي او ژر مي د خپل حجاب په خوا منډه کړل ،

خو هغه زه د لاس څخه ونيولم او بيرته يي ځانته کش کړم ، ما چيغي کړي ويل مي دا څوک دي او ولي دلته راغلل ؟

خو هغه نور هغه هغه کس نه و چي ما په ميسجونو کي پيژندلي و.

ketabton.com - The Digital Library

اوس هغه لکه یو وحشي ځناور داسي و هغه خپلو ملګرو ته نارې کړي او بیایي په ټولو زما د بدن په لوڅولو پیل وکړي ، ما چغې کړي نارې کړي ، خو هلته هیڅوک زما د مرستي لپاره رانغلي ، زه یواځي د هغوي ځناورو په لاس کي وم چي هغوي ته رحم درلود او نه هم انسانیت .

ملیکي نورې هم داسي خبري وکړي چي په یي زه لیکلي او نه د ویلو توان لرم ، ځکه زه هم نارینه یم ماته په داسي الفاظو باندي خپل وجدان او ضمیر بد ښکاریږي او ځان مي ملامت احساسوم .

هغي وویل :

زه بي وسه سوي وم ، ما د میني په نوم داسي دوکه وخوړل چي دښمن یي هم چاته نه ورکوي .

انجلي سختو سلګو واخیسته ،

ketabton.com - The Digital Library

بيايي په ژړغوني اواز وويل ، ورور جانه !
هغوي ټولو په نوبت سره زما د ژوند او زما د پيغلتوب سره لوبي وکړي ، زه نوره هغه څوک نه وم چي ستاسي په مخ کي دريدلي واي ، او ځان مي ستاسو په مخ کي حاضر کړي واى .

زما عزت نور خاوري سو زما عزت نور هيڅ نسته زما ژوند نور پاي ته ورسيدي ، زما دغه ويډيو چي تر تاسو ورسيږي نو ماته بخښنه وکړي ، زما عقل ړوند سوي و او زما مينه غالبه سوي وه ، زه نه پوهيدم چي داسي څه به زما سره وسي .

بيايي لنډه وقفه وکړئ او له درده ډکه ساه يي واخيستل بيايي وويل:

ketabton.com - The Digital Library

ما اوس داسي زهر ښځښلی دي چي لږ وخت وروسته به ددي بي وفا او وحشي نړۍ ځخه مخه ښه وکړم او نور به د مليکي په نوم داسي څوک نه وي چي تاسو ورته غوسه سي او يا تاسو ورته ناز ورکړي.

انجلي ددي خبري په ويلو دومره احساساتي ژړا وکړل چي زما له سترګو هم اوښکي رواني سوي.

د هغې خبرې ورو ورو داسې ځای ته ورسېدې چې د هغې باور په بشپړه توګه مات شوی و.

هغه هلک چې په پيغامونو کې يې ځان مهربان، باوري او د هغې د راتلونکي ملګری ښودلی و، د هغې په وړاندې بل انسان ثابت شو.

مليکې وويل:

ketabton.com - The Digital Library

ما هغه کس په پیغامونو کې بل ډول پېژندلی و.

ما فکر کاوه چې هغه به زما عزت وساتي.

ما فکر کاوه چې هغه به زما د ژوند ملګری شي.

خو هغه څه چې ما ولیدل، هغه انسان نه و چې ما په پیغامونو کې پېژندلی و.

ملیکې په ژړا وویل:

ورور جانه، زه نه غواړم تاسو ته د هغه ځای هره خبره ووایم.

یوازې دومره پوه شئ چې ما د داسې خلکو په لاس کې ځان ډېر بې وسه احساس کړ چې ما پرې زیات باور کړی و .

هغوی زما غوښتنه نه منله.

ما ځان یوازې احساس کړ.

ما فکر کاوه چې زما ژوند ختم شو.

ketabton.com - The Digital Library

خو اوس پوهېږم چې انسان باید په داسې حالت کې ځان یوازې نه پرېږدي.

باید مرسته وغواړي.

باید له داسې چا سره خبرې وکړي چې پرې باور لري.

خو ما دا کار ونه کړ.

ما هر څه له تاسو پټ کړل.

همدا پټه خبره زما تر ټولو لویه ستونزه شوه.

ملیکې په ژړا وویل:

ورور جانه، زه له تاسو څخه بښنه غواړم.

مور ته مې وویل چې زه یې ډېره یاده وم.

هغې ته وویل چې زه یې بد لور نه وم.

زه یوازې تېرایستل شوې وم.

زه یوازې فریب شوې وم.

ketabton.com - The Digital Library

ما فکر کاوه چې مینه ده.

ما فکر کاوه چې هغه انسان به زما ژوند جوړ کړي.

خو زه نه پوهېدم چې د انسان په خبرو کې هم دروغ پټېدلی شي.

د هغې غږ نور هم کمزوری شو.

بیا یې وویل:

که دا ویډیو تاسو ته ورسېده، زما په اړه ژر پرېکړه مه کوئ.

لومړی زما خبره واورئ.

زه غواړم چې نورې نجونې زما له تېروتنې زده کړه وکړي.

هر هغه څوک چې په فېسبوک یا بل ځای کې درته ډېرې خوږې خبرې کوي، لازمه نه ده چې هغه هماغسې انسان وي لکه څنګه چې ځان دربښيي.

ketabton.com - The Digital Library

د خپل ژوند مهمې پرېکړې یوازې مه کوئ.

له خپلې کورنۍ، مور، پلار، ورور یا بل باوري انسان سره خبرې وکړئ.

ملیکې بیا ژړا پیل کړه.

ما فکر کاوه چې ویډیو به همدلته ختمه شي.

خو هغې وروستۍ ځل کمرې ته وکتل.

او ویې ویل:

ورور جانه، زه نه غواړم تاسو ته درد درکړم.

خو مجبوره یم چې باید نور د ژوند سره مخه ښه وکړم ، زما لپاره دعا وکړئ. په دعاګانو کې مې

ketabton.com - The Digital Library

مه هیروئ ، بیایې اوښکي په مخ رواني سوي ویل
د خداي په امان .

ویډیو پای ته ورسېده.

زه څو شېبې موبایل ته هماغسې ناست وم.

نه پوهېدم چې څه وکړم.

سترګې مې له اوښکو ډکې وې.

ما موبایل پر مېز کېښود.

بیا مې د هغې پر سکرین عکس ته وکتل.

ما له ځان سره وویل:

دا هماغه ملیکه ده؟

هماغه نجلۍ چې څو شېبې مخکې مې د روغتون
په عاجل خونه کې د ژوند لپاره مبارزه لیدله؟

ketabton.com - The Digital Library

ما فکر وکړ:

څنګه یو انسان کولی شي د بل انسان باور ترلاسه کړي او بیا هماغه باور د هغه پر ضد وکاروي؟

موږ ولې کله کله د یو انسان خبرې د هغه د عمل څخه مهمې ګڼو؟

دنیا چیري ولاړه خو موږ ځیني پښتانه لاهم د میډیا څخه داسي استفاده کوو چي هم ځانته او هم نورو ته تاوان رسو، کاش چي موږ د خپل پښتنوالي په قدر پوهیدو ، او کاش چي موږ افغانان خپل په تیر غیرتي تاریخ خبر وای ، او کاش چي موږ مسلمان ددې ګناه په سزا او پخپل محمدی شریعت او خلاقو خبر وای ...

ما همدا فکرونه کول چې د دهلېز له خوا د قدمونو غږ راغی.

ما ژر خپلې اوښکې پاکې کړې.

دروازه خلاصه شوه.

ketabton.com - The Digital Library

زهرا نرسه وه.

هغه په بیړه راغله.

ډاکټر صاحب، ژر راشئ. د ناروغ حالت ښه نه دی.

ما موبایل جیب ته واچاوه او ورپسې روان شوم.

د ملیکې د خونې مخې ته یې د کورنۍ ډېری کسان راټول شوي وو.

مور یې ژړل.

پلار یې غلی ولاړ و.

ورونه یې وارخطا وو.

خویندې یې د مور ترڅنګ ولاړې وې.

هغوی لا نه پوهېدل چې ملیکه ولې دې حالت ته رسېدلې ده.

ما د دوی پر څېرو سترګې ولګولې.

ketabton.com - The Digital Library

د ملیکې د ویډیو خبرې مې بیا په ذهن کې راوګرځېدې.

ورور جانه...
مور ته مې ووایه... دعا کوه .

ما په زړه کې دروند درد احساس کړ.
بیا خونې ته ننوتلم.
ملیکه پر کټ پرته وه.
سیروم ورته روان و.
رنګ یې ډېر ژیړ شوی و او حیاتي علایم یې لا هم د اندېښنې وړ وو.
مور بیا د هغې حالت وارزاوه او د درملنې هڅې مو دوام ورکړ.
زه نه پوهېدم چې ولې زما زړه دومره دردېده.

ketabton.com - The Digital Library

ما د هغې لاس ونیو.

په ډېر ټیټ غږ مې وویل:

ملیکې، مه تسلیمېږه.

ته لا ځوانه یې.

ستا ژوند لا پای ته نه دی رسېدلی.

خو هغه زما خبره نه شوای اورېدلی.

زما له سترګو څخه اوښکي رواني سوي او هغې
ته مي کتل چي د مرګ خواته په منډه وه .

نرسانو راته کتل.

هغوی نه پوهېدل چې زه د هغې د ژوند له کوم
راز څخه خبر شوی یم.

ما ځان راټول کړ.

د ډاکټر په توګه مې باید خپل احساسات شاته
پرېښي وای.

بیا مو د هغې حیاتي علایم په دوامداره توګه
وڅارل.

ketabton.com - The Digital Library

د درملنې ټولې اړينې هڅې مو وکړې.

خو حالت يې ډېر خراب و.

څو دقيقې وروسته ما بيا د هغې نبض وکوت.

زړه مې درېدلی و.

يو ځل مې بيا وکتل.

بيا مې د نرسانو پر لوري وکتل.

مليکه نور له مور سره نه وه.

ما څو شېبې هېڅ ونه ويل.

په خونه کې چوپتيا خپره شوه.

د هغې مور له دباندې ژړل.

د هغې ورور د دروازې ترڅنګ ولاړ و.

زه نه پوهېدم چې هغوی ته څه ووايم.

ما يوازې دومره احساسوله چې يوه کورنۍ د خپلې نازولې خور او لور د ژغورلو په تمه ولاړه ده،

ketabton.com - The Digital Library

خو زه باید هغه خبر ورکړم چې هېڅ ډاکټر يې نه غواړي ورکړي.

زه له خونې ووتلم.

د ملیکې مشر ورور زما مخې ته راغی.

ډاکټر صاحب...

هغه نورې خبرې ونه شوای کولای.

ما هم سر ښکته کړ.

د هغه سترګو ته مې وکتل.

او هغه شیبه مې هېڅکله له یاده ونه وته.

د هغې مور چې کله پوه شوه، داسې ژړل چې ټول دهلېز يې له ژړا ډک کړ.

ورور يې دیوال ته تکیه شو.

ketabton.com - The Digital Library

هغه چې څو شېبې مخکې يې ځان قوي ساته، نور يې خپل ځان نه شواى کنټرولولی.

هغه يوازې ويل:

زما خور...

زما مليکه...

ما سترګې بنکته کړې.

زه ډاکټر وم.

خو هغه شېبه زه يوازې ډاکټر نه وم.

زه هم يو انسان وم.

ما د يوې کورنۍ درد په خپلو سترګو ليد.

او تر ټولو سخته خبره دا وه چې زه د مليکې د ويډيو له امله پوهېدم چې د هغې په زړه کې څه

ketabton.com - The Digital Library

تېر شوي وو، خو د هغې کورنۍ لا د هغې د درد له ډېرو برخو بې خبره وه.

سبا سهار مو د روغتون ټول اړين کارونه بشپړ کړل او د ملیکې جسد مو د هغې کورنۍ ته وسپاره.

ما د هغې موبایل په لاس کې ونیو.

څو شېبې مې ورته وکتل.

بیا مې د ملیکې مشر ورور ته ورکړ.

ما ورته وویل:

دا د ملیکې موبایل دی. زما سره پاتې شوی و.

هغه موبایل واخیست.

مننه یې وکړه.

ما ورته د ویډیو خبره ونه کړه.

ketabton.com - The Digital Library

هغه له روغتون څخه ووت.
زه بېرته خپلې دندې ته راغلم.
خو زما ذهن لا هم له ملیکې سره و.

تر ډېرو میاشتو پورې مې هغه شپه هېره نه کړه.
کله به مې د روغتون عاجل خونه ولیده، د ملیکې ژیړ مخ به مې سترګو ته ودرېد.
کله به مې د یوې ځوانې نجلۍ ناروغي ولیده، د هغې ویډیو به مې راپه یاد شوه.
او کله به مې د فېسبوک له لارې د خلکو خبرې لیدلې، نو یوه خبره به مې ذهن ته راغله:

هره خوږه خبره د رښتینولۍ نښه نه ده.
ځینې خلک ستا باور په ډېرې حوصلې جوړوي.

ketabton.com - The Digital Library

لومړی ځان داسې درښيي لکه ستا تر ټولو ښه ملګری.

ستا خبرې اوري.

ستا احساسات درک کوي.

ستا د راتلونکي خبرې درسره کوي.

خو د انسان اصلي څېره هغه وخت ښکاره کېږي چې ستا په وړاندې د هغه د ګټې او ستا د خير تر منځ انتخاب راشي.

د مليکې کيسه زما لپاره يوازې د يوې ناروغې کيسه نه وه.

دا زما د ژوند يو لوی درس و.

ما زده کړل چې انسان بايد د ستونزې په وخت کې يوازې پاتې نه شي.

که څوک تېروتنه وکړي، بايد د مرستې غوښتلو دروازه ورته خلاصه وي.

ketabton.com - The Digital Library

که څوک فریب وخوري، باید د بېرته راستنېدو لاره ورته موجوده وي.

او تر ټولو مهمه دا چې موږ باید د خپلو ماشومانو او کورنۍ داسې باور جوړ کړو چې که هره ستونزه ورته پیدا کیږي، له موږ څخه ونه وېرېږي.

ځکه کله چې انسان له خپلې کورنۍ څخه د یوې ستونزې د ویلو وېره پیدا کړي، بنایي هماغه ستونزه د هغه په ژوند کې ډېره لویه شي.

ملیکه لاړه.

خو د هغې کیسه پاتې شوه.

او زه تر نن ورځې پورې کله کله د هغې د ویډیو وروستۍ خبرې په ذهن کې اورم.

ketabton.com - The Digital Library

ورور جانه، زما خبره تر پایه واوره او ماته دعا کوه .

همدا جمله زما لپاره د هغې د ټولې کیسې تر ټولو دردوونکې برخه وه.

ځکه هغې یوازې غوښتل چې څوک یې واوري.

او کله چې موږ د هغې خبره واورېدله، هغه نور زموږ په منځ کې نه وه.

انا لله وانا اله راجعون

ډاکټر عتیق الله ژمن

**پاي**

ketabton.com - The Digital Library

# د ناول پیغام

هره خوږه خبره د رښتیني مینې نښه نه ده.

پر هر څه ژر باور مه کوئ، په ځانګړي ډول پر هغه څه چې یوازې د خبرو له لارې مو پېژني.

که هره ستونزه درته پیدا شي، له خپلې کورنۍ او باوري خلکو سره خبرې وکړئ؛ ځکه یوه پټه تېروتنه کله ناکله د ټول ژوند بیه لري.

د بشپړېدو تاریخ

**2026/Aug/17**

**د ناول د جنسي محتوا لپاره بخښنه غواړم.**

ketabton.com - The Digital Library

واتساف شمېره:

+93744405671

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*